# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد* *بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم* *از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



محمد ایاز نوری

۲۵/۰۴/۲۰۱۰

د افغانستان د خپلواکۍ د نه ہېریدونکي څلي،

## اعليحضرت غازي امان الله خان

د مړيني د پنځوسمي کليزې په درشل کې

۱۹۶۰ ـ ۲۰۱۰




شاغلو او اغلو افغانانو!

نن د ۱۳۸۹ هجري کال د ثور د مياشتي ۵ د ۲۰۱۰م کال د اپريل د مياشتي ۲۵چي سمون خوري زمونږ د هيواد د ملي وياړ او قائيد فقيد اعليحضرت غازي امان الله خان د مړيني د ۵۰ کليزې سره.

شا او خوا دوه مياشتي پخوا کله چي، د غازي اعليحضرت امان الله خان يواځني ژوندي زوی عالي جناب والاحضرت ډاکټر صاحب احسان الله خان "دافغانستان" سره مي خبرې لرلي، پس له دي چي، جناب د هيواد ګران افغانستان په اوسني ډېر خواشينوونکي حال خپل ژور خفګان راته څرګند کړ، بيا مو معمولاً د هيواد د تاريخ پاڼه يو څه راواړوله. دا هم کله يوه ضروري خبره وي، کله چي يو متعهد افغان د تاريخي افغانستان اوسني وضعيت ته په ځير سره ګوري، نو هرومرو نژدي تاريخ ته يي مراجعه کوي. اوبيا کله چي، يو آزادي پال افغان د شهزاده احسان الله خان سره خبرې کوي، څنګه امکان لري چي، د هغه جناب د پلار د افغانستان د يو لوی ملي زعيم د کارنامو او لوړ شخصيت څخه يادونه ونشي. والاحضرت د خپل هميشني متواضع کرکټر او آرام بحث په پای کی ماته وويل:

اوس چي ۲۰۱۰م کال پيل شوئ، زما په ګمان چي د غازي اعليحضرت د وفات د پنځوسمي کليزې سره مطابقت کوي. ما عرض وکړ، بلي صاحب، تاسو درست وفرمايل. جناب په دوام وويل، پنځوس کاله د پيړۍ نيمايي او

ځانګړې رقم دئ. زما آرزو ده چې، د امکان په چوکاټ کې دغه کليزې ته يوه يادونه وشي. ما عرض وکړ، ستاسو مفکوره بالکل سمه ده. د يادولو څخه مو د يوې افغاني غونډې د جوړيدو فکر دئ؟ والاحضرت وويل، نه دا ستونځمن کار دئ او نه غواړم افغان وطنوال پدې جلا وطنئ کې وکړوم. په يوه پيغام زما او د نورو علاقه مندو افغانانو په ليکنو به يې کفايت وکړو.

بيا ما بعضو دوستانو او په ضمن کې افغان ملي شخصيت استاد حبيب الله (رفيع) سره مشوره وکړه. استاد رفيع چې، د اماني درګاه يو قربان شوی پتنګ دئ ، په خورا خوشحالي د شهزاده تصميم وستايه او وې ويل، چې زه به دلته په کابل کې د يوې غونډې د جوړيدو بند او بست وکړم. د اعليحضرت غازي امان الله خان وراره عالي جناب کبير الله خان (سراج) هم د يوې ليکنې قول راسره وکړ. پخوا کلونو کې يو وخت ما په ياد دي، کله چې، ما د شهزاده احسان سره د غازي اعليحضرت په هکله خبرې کولې، هغه وفرمايل:

دا زما نيک قسمت وه، چې زه خدای پاک د افغانستان د هسې يو مفتخر انسان څخه هست کړئ يم. خو ماته هغه وخت د غازي اعليحضرت نوم نور لوی او وياړمن ښکاره کيږي، چې زه ستا غونډې د افغان ملت په قطار د يوه عادی افغان په توګه ودريږم او په غازي امان الله خان باندې فکر وکړم.

رښتيا هم په لويو انسانانو تفکر کول، په يوه سالم انسان فشار او درونډوالئ راولي. ما ليکوال هميشه دا احساس کړئ، کله چې والاحضرت خپل پلار ياد کړئ او يا يې ما نوم ورته اخستئ، د جناب بنه او وضعيت بدل، فشار او ژور خفګان پرې مسلط شوی دئ...!؟

درنو رښتينو خپلواکي پالو افغانانو! نن زه په دغه ليکنه کې د يوه افغان په حيث د داسې يوه افغاني باتور يادونه کوم، چې که هغه واقعا ملي زعيم، په يو انګريزي ډېر ابليسي پلان له منځه تللئ نه وای، نن به نه يواځې دا بربادي په هيواد نه راتللئ، بلکه اوس به افغان انسان د دنيا د زبر ځواکو هيوادو د وګړو سره علمي او اقتصادي سيالي کولای. دلته ده، چې هر وطن دوست او هر خاين افغان ( چې متعاسفانه کافي يې لرو)، نن زما په دغه پورته تحليل او قضاوت معترف دئ.

يو ځو کاله پخوا زه په تصادفي ډول په يو افغاني مجلس کې واقع شوم، د هغه کورني مجلس يو ځو کسان د افغانستان د يوه لوی مجرم او په ضمن کې نهه مياشتني پاچا، حبيب الله (بچه سقو) د حکومت د ځو وزيرانو شه نژدې خپلوان کيدل. دوی دوه نارينه او ځو زنانه ول. نارينه يې لوستي، يوه کسان او مودبه معلوميدل. ما پس له کافي سکوت څخه د هيواد د حالاتو ته په لنډو کتو کې د يوه ضرورت پر اساس د هغه ملي زعيم اعليحضرت غازي امان الله خان نوم ياد کړ. په مجلس سکوت او چوپتيا راغله. د مجلس ټول کسان نور هم جدي او سنګين شول. بيا ما سکوت مات کړ او د يوه له دغو نارينوو څخه مې وپوښتل، زه داسې پوی شوم، چې تاسو د بچه سقو په باب شايد ښه معلومات ولرئ. آيا دا کس په رښتيا غل او لاري وهوونکئ وه او که دا د يو شمير افغان ليکوالو په نظر، چې خصوصا د جمعيت اسلامي د ګوند سره مربوطيت لري، دا د هغه خادم دين او عيار؟؟ بد نامول او د شخصيت کوچني کول دي؟

بس له يوه لنډ تفکر څخه، هغه وويل:

حبيب الله بچه سقو.. دزد خو بود...!؟ بيا ما وپوښتل، نو اوس تاسو دا شخص او د هغه کشيناستل د اعليحضرت غازي مان الله خان پر ځاي... تاسو دی مسلې ته څنګه ګورئ؟ په يوه افسوس ناکه بڼه يې وويل: انګليس... توطئه انګليس بود. د دې کور يوه زنانه چې ډېره نا آرامه معلوميده، په نسبتا لوړ آواز يې د خفګان په بڼه کې ټول مجلس مخاطب کړ او په وويل: « اگر امان الله خانه ميماندند، مه امروز بی سواد نمی بودم.» هغه بل نارينه چې د دې کس ورور کيده، ماته په ډېر ځېر سره وکتل او بيا اوږده سا واخيسته او وې ويل: « به هر ترتيب که بود، ما امان الله خانه از دست داديم، که بايد نمی داديم...!؟»

دلته زما سره هغه بل افغان ماته مخ کړ او وې ويل: اياز خانه! چای در واخله او په سترګو کې يې راته ورسول، چې دا بحث باندی تيره کيږده، چې دغو د مجلس ګډون والو ته ډېر دروند تماميږي.

پس دلته بيا هم مونږ په واضحه توګه ګورو، چې که څه هم د اعليحضرت غازي امان الله خان د دولت د سقوط څخه ۸۱ کاله او د وفات څخه يې ۵۰ کاله تيرشول، ليکن نه يوازی چې، د هغه غازي لوی نوم له منځه نه ولاړ، بلکې د وخت په تيريدو يې جلا نوره هم د استعمار د ايرو د لاندې څخه راڅرګنديږي.

د افغان دغه ملي اتل او د آزادئ سروال لکه څنګه د هغه مرحوم لور شهزادګی هنديه جان "د افغانستان" ما ليکوال ته وويل:

« دا د ۱۹۶۰ م کال د اپريل د مياشتې ۲۵ نيټه وه. اعليحضرت په همدې ورځ د سويس هيواد د زوريخ ښار په يوه روغتون کې د ځيګر د ناروغئ له کبله د ۶۸ کلنو ژوند څخه پس له دې نړئ سترګې پټې کړې. د غازي جنازه مو د اورګاډي په ذريعه د سويس د هيواد نه د ايټاليا پلازميني روم ته راورسوله. بيا زما مور او مشر وورو رحمت الله خان د ايټاليا حکومتي مقاماتو سره په تفاهم کې زمونږ د پلار جسد په ډير درنښت او اخلاص سره په يوه دولتي رسمي مانئ کې د دريو ورځو لپاره ځای پر ځای کړ. په دغو دريو ورځو کې په داسې حال کې، چې د افغانستان دولت ته مونږ اطلاع ورکړې وه، ليکن اعليحضرت ظاهر شاه چپ وه او هيڅ ځواب يې نه راکاوه...!؟ په دې جريان کې د پاکستان د هغه وخت دولتي مقاماتو مونږ سره تماس وکړ، چې حاضر دي، چې د اعليحضرت امان الله خان جنازه هلته ولېږدوي، او زيارت پرې جوړ کړي. د پاکستان دولت هدف له دې اقدام څخه د افغانستان د دولت حقير

کول ول. د دې وضعیت په لیدو سره افغان دولت حاضر شو، چې د غازي اعلیحضرت جنازې ته افغانستان ته د انتقال اجازه او دستور صادر کړي.»

د غازي اعلیحضرت وراره جناب سردار کبیر الله خان (سراج) بیا د مرحومې ملکې ثریا څخه روایت کوي، چې د ترکیې حکومت، د سعودی عرب بادشاه (۱) او د پاکستان میشته پشتنو د فخر افغان خان عبدالغفار خان په مشرۍ هم وراندیزونه کړي ول، چې د غازي جنازه دې د ښخولو لپاره د هغوی هیوادو ته ورانتقال شي.

په دې ترتیب افغان حکومت د یوې افغانی الوتکې په ذریعه د غازي امان الله خان جنازه لومړئ د کندهار په هوایي ډګر کې کوزه او له هغه ځایه یې مخامخ د ننګرهار ولایت د جلال آباد ښار ته ورسوله او د امیر حبیب الله خان په زیارت کې یې خاورو ته وسپارله.

دلته زه غواړم، په لنډو خپله ارزونه خپلو هیواد والو سره داسې شریکه کړم. کله، چې مونږ وایو، وخت یا زمان بهترین قاضي دئ...!. د نادر غدار او انګریز غلامه فامیل او بیا د نادر خان دغه زوی په نوم دې ظاهرشاه ته چې، ځیر شو، دغه دئ د هغه وخت ۱۹۶۰م د افغانستان ټولواک او د ده اصلي شخصیت او ماهیت او ورسره کورنئ داړه یې لکه: شاه ولی خان، داوود خان، نعیم خان او شاه محمود خان (فکر کوم هغه وخت وفات شوئ وه)، دوی د اعلیحضرت غازي امان الله خان حتي د بې روحه جسم یا مړي څخه دومره په ډار کې لویدلي ول، چې پوره درې ورځې په خپل منځ کې او یا هم د انګریزي مقاماتو سره په خبرو او مصلحت بوخت ول، چې د دې لوی افغان قهرمان د مړي سره کوم شیطاني عمل تر سره کړي، تر څو دا غیر مشروع واک د بادشاهۍ تر قیامته د دوی د مبارک؟؟ خاندان سره پاتي شي...!؟ زه پوښتم، پس له دې ورځو ځان غلي کولو او نه بخشوونکي بې تفاوتۍ، د غازي د مړي د لیګدولو الوتکه، ولې په قندهار کې په ځمکه ښکته کیږي او بیا مخامخ بله الوتنه د جلال آباد ښار ته درسره کیږي؟ په هغه خبرو کې چې ما لیکوال په ۲۰۰۸م کال کې د غازي اعلیحضرت د زوی مرحوم ولیعهد رحمت الله خان سره په روم کې لرلې، هغه جناب وفرمایيل چې:

« زما د پلار غازي اعلیحضرت وصیت دا وه، چې زه پوهیږم، چې زما د وفات څخه پس افغان واکداران (نادریان) زما جسد افغانستان ته د ښخیدو لپاره نه پریږدي، تاسو زما جسد امانت دلته خښ کړئ، او هر وخت چې، په افغانستان کې یو ملي کس واکدار شو، بیا زما تابوت په پلازمینه کابل کې بیرته خاورو ته وسپارئ. جناب ولیعهد په دوام وویل، کله چې زما پلار وفات شو، زما غوښتنه د افغان حکومت څخه دا وه، چې زما پلار دې د هغه د وصیت سره سم په کابل کې ښخ کړای شي، لیکن ظاهر شاه زما د غوښتنې بر خلاف الوتکې ته د قندهار څخه جلال آباد ته د تګ امر ورکړ. که څه هم د قندهار هوایي ډګر کې کله چې زه د الوتکې حخه لږ شیبه ښکته شوم، د حاکم خاندان یو کس زما سره روغبړ وکړ او وې ویل، چې زه محمد داوود یم او ستا د پلار د احترام لپاره دلته راغلئ یم. »( په داسې حال کې، چې زه لیکوال د سردار داوود نه پوښتم، چې تاسو خو د هغه وخت صدراعظم واست، نو دا څنګه ستاسو احترام وه، چې د غازي او د هغه د کور د آرزو پر خلاف مو الوتکې ته راسا جلال آباد ته د پرواز امر ورکړ او یا مو موافقه ورسره وکړه؟). په دې نقطه کې بیا د غازي وراره جناب کبیر الله (سراج) د مرحومې ملکې ثریا نه ماته داسې توضیح راکړه: مرحومې ثریا زما سره په یوه کتنه کې نقل کاوه، کله چې، د غازي اعلیحضرت د ښخیدو مراسم په جلال آباد پای ته ورسیدل، مونږ د غازي د کور غړي کابل ته راغلو. په ارګ کې ما د شاهي خاندان غړو ته د اعتراض په شکل وویل چې، که تاسو زما د میړه غازي اعلیحضرت جسد خلاف دې د هغه مرحوم د وصیت په جلال آباد کې ښخ کړ، نو زمونږ غوښتنه خو دا هم وه، چې د غازي جنازه دې یوه وار پایتخت کابل کې وځنډول شي، چې افغانان یې وروستي زیارت او درنښت ته راشي، او بیا دې او بیا دې جلال آباد ته انتقال شي؟ لیکن پّه دې وخت کې د ظاهرشاهي خاندان غړو له هغې جملې شاه ولي خان او سردار ولي ماته وویل: « یک پادشاه در کابل موجود است، پس ضرور نبود که پادشاه دیگری را ما به پایتخت، کابل انتقال میدادیم، ما که همین قدرهمکاری هم با شما کردیم، خوش باشید...!؟»

زه لیکوال دلته وایم چې، ولې شخصا اعلیحضرت ظاهر شاه ځان ته تکلیف ورنکړ، چې، جلال آباد ته د غازي اعلیحضرت د ښخیدو په مراسمو کې حاضر شي؟ شاید چې انګریزانو به اجازه نه وي ورکړي...!؟ آیا همدا اعلیحضرت ظاهر شاه همدې لوی غازي د خپلې بادشاهي بر وخت د لورو زده کړو لپاره د فرانسې هیواد ته نه وه استولئ چې، سړئ شي؟ دا د دې بابای ملت ؟؟ د نمک پاس وه غازي اعلیحضرت ته...!؟ زه به په تکرار په ګوته کوم چې، تاسو د اعلیحضرت امان الله خان عظمت ته وګورئ، چې دا سیاسي غل خاندان یې د مړي څخه دومره په ډار کې ول. بله انګریزي غداري د ظاهر شاه او د کورنئ داړې یې د هغه لوی غازي په حق کې دا وه چې، ګویا د جلال آباد په ښار کې ځمکه ډیره وړه وه، او د اعلیحضرت غازي امان الله خان د مستقل زیارت د جوړلو لپاره هیڅ ځای نه پیدا کیده؟؟ نو خاندان مصلحت وکړ، چې د دې لپاره چې د غازي امان الله خان شخصیت لومړئ کوچنئ او بیا په راتلوونکي کې د عمومي انظار او د افغانانو د مستقل درنښت څخه یې محروم وساتي، هغه غازي ته یې د هغه د پلار امیر حبیب الله خان د قبر تر څنګ یو تنګ او پناه ځای د ښخیدو لپاره وټاکه..!؟

په هر حال، اصلا زه غواړم، چې دا لیکنه راالنده کړم او نه غواړم، چې آزادي دوسته او اماني دوسته افغانان نور هم په ویر کې ډوب کړم، لیکن یوه ډیره مهمه نتیجه باید مونږ له دې تاریخي پېښو څخه تر لاسه کړواو هغه دا چې د افغانستان ملت په مجموع کې سره د دې چې، د سقویانو او نادریانو او د هغوی د دوام ورکوونکو له خوا ووژل شو،

وړئ وسائل شو، په سیاسي ارزوونو کې جاهل او بې سواده پاتې کړای شو، خو یو خصلت او یوه ارزښتناکه شتمني هیڅ دښمن د دې مظلوم اما مغرور او مقاوم ملت نه لرې نه کړای شوه او هغه د هغوی خدای ورکړې د آزادئ او خپلواکی احساس دئ:

**وایی: د زمري دوه ورځې ژوند د ګیدړې سل کاله، بیا هم سره برابر نه دي...**

هر څه تیر شول او زمان په خپل ورته ټاکل شوي انداز کې مخ پر وړاندې ځغلي. اعلیحضرت غازي امان الله خان یوائې لس کاله د افغانستان مستقل، خپلواک او ویاړمن بادشاه وه، او سیاسي غله نادریان او له هغې جملې ظاهر شاه پوره څلویښت کاله د انګریز او روس د ستراتیژیک پلانونو پر بنسټ د افغانستان ټولواک وه. اما نن د افغانستان ملت خپله مستقله فیصله پر دواړو بادشاهانو ورصادروي. نن د چا سر هسک او د چا سر خدای او افغان ملت ته ټیټ دئ...؟! قضاوت دې مخلص امانیان او د نادر ــ ظاهر پلویان او چاپلوسان وکړي...!؟
په دې ډول زه د یوه افغان وګړي په توګه، د دې لیکنې په پای کې زمونږ د لوی ملي مشر اعلیحضرت مرحوم غازي امان الله خان سپیڅلي روح ته رجوع کوم او ورته عرض کوم،
چې اې غازي!
نن خو بیا انګریزان او ورسره امریکائیان زمونږ وطن ته راغلي دي او زور غږوي، امریکائیان او ورسره نور د دنیا د څلویښتو هیوادو عسکرو ته یې پرئ په غاړه کې وراچولئ او د تروریزم سره د مبارزې تر بهانې لاندې یې تاریخي افغانستان نیولئ دئ. دا غاصبګر هره ورځ په خپل سر افغان وژوونکي عملیات کوي.لیکن دوی به یوه ورځ ناکام بیرته له افغانستانه څخه وځي. ستا زامن او لونې دغه دې ژوندي دي، ستا لار تعقیبوي، ستا ارواح ته په پوره اخلاص سره درود او دعا استوي، په درنښت دې یادوي او تر څو چې، افغانستان وي او افغان ژوندئ وي، ستاسو نوم او کارنامې به د دوی په ذهن کې په ثابت ډول پاتې وي.

## لوی غازي!

## روح دې آرام او ګور دې د الله په رحمت وړننګین او نوراني اوسه...

## ژوندي او ثابت قدمه دې وي، ربښتني خپلواکي پال افغانان

## د مستقل افغانستان په لور...




نویسندهٔ مقاله ، محمد ایاز نوری، بر مزار اعلیحضرت غازی امان الله خان
در جلال آباد ــ ننگرهار